هفته نامه معارف اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱٤۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۳۱) ماه صفرالمظفر ۱٤٤۸ هـ ق. مطابق ماه اسد ۱٤۰۵ هـ. ش




# د افغانستان اسلامي امارت د فتحې د پنځمې کلیزې په مناسبت د پوهنې وزارت د محترم وزیر، الحاج مولوي حبیب‌الله آغا پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلوٰةُ وَالسَّلامُ عَلَی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَ عَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ أما بعد:

د افغانستان اسلامي امارت د فتحې د ۵مې کلیزې په مناسبت، د پوهنې وزارت د رهبرۍ په استازیتوب د شهیدانو درنو کورنیو، مجاهدینو، مدرسینو، استادانو، ښوونکو، طلاب‌العلمو، زده‌کوونکو، د پوهنې وزارت مسوولینو او منسوبینو او ټول مجاهد او مؤمن افغان ولس ته د زړه له کومې مبارکي وړاندې کوم.

د اسد ۲۴مه د افغانستان د معاصر تاریخ هغه له ویاړه ډکه او نه هېرېدونکې ورځ ده چې الله تعالی پکې زموږ مجاهد ولس ته ستره فتحه وربه برخه کړه، د شل کلن اشغال تغر یې ورټول او افغانانو ته یې د اسلامي نظام تر سیوري لاندې د خپلواک او باعزته ژوند فرصت برابر کړ.

دا ستره بریا د الله تعالی د نصرت، د مجاهدینو د اوږدو او مخلصانه مبارزو؛ د شهیدانو د سپېڅلو وینو، د ټپیانو او بندیانو د زغم او د افغان مسلمان ولس د پراخ ملاتړ او استقامت پایله وه. الله تعالی دې د جهاد د لارې د ټولو شهیدانو شهادتونه قبول کړي؛ الله تعالی دې د ټپیانو، بندیانو او د هغوی د کورنیو زحمتونه مأجور او موږ ټولو ته د دې ستر نعمت د شکراني او ساتنې توفیق راکړي. فتحه یوازې د خوښۍ او ویاړ ورځ نه ده؛ بلکې له ځان سره لوی مسوولیت هم راوړي. الله تعالی فرمایي: ﴿لَئِنْ شَکَرْتُمْ لَأَزِیدَنَّکُمْ﴾.

ژباړه: که شکر وباسئ، نعمتونه به درزیات کړم. [ابراهیم: ۷]

د فتحې د دغه ستر الهي نعمت شکر یوازې په ژبه نه ادا کېږي؛ بلکې حقیقي شکر یې داسې ادا کېږي چې هر مسوول خپله دنده په اخلاص، امانتدارۍ او بشپړ مسوولیت ترسره کړي، د ولس خدمت خپل دیني امانت وبولي او د اسلامي نظام د پیاوړتیا او د افغانستان د آبادۍ لپاره خپلې وړتیاوې پوره وکاروي.

پوهنې وزارت باور لري چې د هر ملت د بریا دوام د هغه د راتلونکي نسل په روزنه پورې تړلی دی. که زموږ ماشومان، طلاب‌العلم او زده‌کوونکي په سالمه عقیده، غوره اخلاقو، ګټور علم، نظم او خدمت په روحیه وروزل شي، د فتحې دا نعمت به خوندي پاتې شي او برکتونه به یې راتلونکو نسلونو ته هم ورسېږي. ځکه خو، تعلیم او تربیه د فتحې له ساتنې او د اسلامي نظام له پیاوړتیا سره ژوره اړیکه لري. د اسلامي نظام بقا هغه وخت تأمینېږي؛ چې د نوي نسل زړونه په ایمان او اخلاقو او ذهنونه یې په علم، پوهه او سالم فکر وروزل شي. دا هغه ستر امانت دی چې د پوهنې وزارت، مدرسین، استادان، ښوونکي او د تعلیم او تربیې ټول خدمتګاران یې په اړه مسوول دي.

د الله تعالی په فضل، د اسلامي امارت د رهبرۍ په ځانګړې پاملرنه او د پوهنې وزارت د ټولو منسوبینو په ګډو هڅو؛ په تېرو پنځو کلونو کې د تعلیم او تربیې په ډګر کې د پام وړ مثبت ګامونه پورته شوي دي. د زده‌کوونکو د جذب او د ښوونیزو خدمتونو د پراختیا لپاره هڅې شوې؛ په بېلابېلو سیمو کې نوي ښوونځي، مدرسې، دارالحفاظونه او ښوونیز مرکزونه جوړ شوي؛ کېنې ښوونیزې ودانۍ جوړې یا بیارغول شوي او بېرته راستنو شویو افغانانو ته هم د زده‌کړې ...

۲مخ

# ۲۴ اسد؛ فتح و مسئولیت نظام تعلیمی در ساختن آینده افغانستان

محمد هارون میرزایی




بیست‌وچهارم اسد از روزهای مهم و سرنوشت‌ساز تاریخ معاصر افغانستان است؛ روزی که پس از دو دهه اشغال و مبارزه، صفحه‌ای تازه در تاریخ این سرزمین گشوده شد و ملت افغانستان، به فضل الهی، شاهد استقرار دوباره امارت اسلامی گردید. اکنون که پنج سال از آن رویداد تاریخی می‌گذرد، این مناسبت تنها یادآور یک پیروزی نیست، بلکه یادآور مسئولیتی بزرگ برای حفظ دستاوردهای فتح، آبادانی افغانستان، تحکیم ارزش‌های اسلامی و تربیه نسلی است که بتواند آینده این سرزمین را با علم، ایمان و تعهد بسازد. خداوند متعال می‌فرماید: ﴿إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ یَنْصُرْکُمْ وَیُثَبِّتْ أَقْدَامَکُمْ﴾ «اگر خدا را یاری کنید، شما را یاری می‌کند و گام‌هایتان را استوار می‌سازد». (محمد: ۷)

این آیه مبارکه در کنار بشارت نصرت الهی، انسان مسلمان را متوجه مسئولیتی می‌سازد که پس از پیروزی بر دوش او قرار می‌گیرد.

حفظ دستاوردهای یک فتح، به تلاش دوامدار، عدالت، خدمت و تربیه انسان‌های صالح و توانمند نیاز دارد. از همین‌جاست که نقش نظام تعلیمی در ادامه راه و ساختن آینده اهمیت ویژه پیدا می‌کند.

تجربه ملت‌ها نشان داده است که پیروزی زمانی ثمره پایدار می‌دهد که زمینه رشد و آبادانی را فراهم سازد. در این میان، یکی از اساسی‌ترین وظایف، تربیه انسان‌های آگاه، متخصص، باایمان و مسئولیت‌شناس است. معارف از مهم‌ترین نهادهایی است که این مسئولیت را بر عهده دارد؛ زیرا آنچه امروز در مکتب‌ها و مراکز تعلیمی به نسل جوان آموخته می‌شود، فردا در اداره، اقتصاد، فرهنگ و زندگی اجتماعی افغانستان اثر خود را نشان خواهد داد.

اسلام نیز به علم و فراگیری آن جایگاه بلندی داده است. رسول الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم می‌فرمایند: «طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِیضَةٌ عَلَی کُلِّ مُسْلِمٍ» [سنن ابن ماجه] «طلب علم بر هر مسلمان فرض است».

این رهنمود نشان می‌دهد که جامعه اسلامی برای رشد و پیشرفت خود به تعلیم و تربیه نیاز دارد؛ تعلیمی که در کنار استوار ساختن ایمان و اخلاق، استعدادها را رشد دهد، مهارت و تخصص ایجاد کند و روحیه خدمت را در نسل نو پرورش دهد...

ص۳

# ۲۴ اسد؛ روز شکست اشغالگران و آغاز پیشرفت افغانستان

علیزاده بامیانی

سالیان متمادی، ملک ما بارها و بارها مورد تجاوز و اشغال دشمنان و مهاجمان قرار گرفته و دشمنان این سرزمین هر بار تمامی منافع آن را رو به افول برده‌اند؛ از هیچ‌گونه ویرانی و کشتاری دست نکشیده و بر اطفال، زنان و ریش‌سفیدان بی‌گناه رحم نکرده‌اند، و حتی حیوانات را نیز دشمن خود می‌پنداشتند. آن‌ها همواره باعث ویرانی مقدسات و از بین‌بردن مصالح دینی و ملی گردیده و به جز منافع خود، هیچ چیز دیگری را در نظر نمی‌گرفتند. به همین دلیل، این سرزمین، با وجود تمامی معادن و ذخایر خود، به کشوری فقیر و بی‌سرپناه تبدیل شد، و از هرگونه پیشرفت و توسعه عقب ماند و حتی در میان کشورهای جهان، در رده کشورهای جهان سوم قرار گرفت.

بلی، تمامی این‌ها برمی‌گردد به همان اشغال‌گران خون‌خوار که با حضور در هر کشور، روح و روان مادی و معنوی آن را از بین برده و ملت‌ها را سال‌ها از تمدن و توسعه دور نگه داشتند. اشغال، تصرف ناعادلانه و غیرقانونی یک سرزمین یا کشور توسط قدرت دیگر است؛ اشغال‌گران معمولاً با استفاده از نیروی نظامی، سیاسی، اقتصادی و فرهنگی، سعی در اعمال سلطه و کنترول خود بر مردم و منابع سرزمین اشغال‌شده دارند. خلاصه اینکه اشغال یکی از بزرگ‌ترین جنایات علیه بشریت است که باعث نقض حقوق بنیادین ملت‌ها، آزادی، استقلال و حاکمیت آنان می‌شود و منجر به رنج، ظلم، ستم، فقر، بی‌عدالتی، تبعیض، زورگویی، سرکوب، خشونت، جنگ، کشتار، آوارگی، تبعید و تخریب می‌گردد.

**پایان اشغال و تولد دوباره افغانستان**

به هرحال گفته‌اند: «هر آغاز پایانی دارد». اشغال افغانستان توسط انگلیس و شوروی نیز به پایان رسید و بالآخره قلدر و ابرقدرت عصر حاضر نیز پس از حمله ناجوانمردانه و از بین بردن زیرساخت‌ها و منافع بنیادین این کشور و قیام ملت مجاهدپرور، فرار را بر قرار ترجیح داد و پس از مذاکرات طولانی، در روز ۲۴ اسد ۱۴۰۰ هجری شمسی افغانستان را تخلیه نمود و از این سرزمین کاملاً رانده شد.

۲۴ اسد روزی بود که روح و روان این سرزمین رنج‌دیده تازه شد و باد صبا در آن دمیده شد. با آمدن آن روز، افغانستان آهسته‌آهسته رو به پیشرفت و ترقی نهاد. تمامی نهادها و سازمان‌هایی که در راستای منفعت خودشان کار می‌کردند و منافع ملی را نادیده می‌گرفتند، رانده شدند و قدرت به دست کسانی رسید که با قوت تمام برای آزادی و استقلال این کشور جان‌فشانی کردند. ۲۴ اسد روز فتح کابل و به دست گرفتن قدرت از سوی مجاهدین و روی کار آمدن بار دوم امارت اسلامی افغانستان است؛ روزی که ملت سال‌ها انتظار آن را کشید و قربانی‌های بی‌شماری در راه آن داد. پس از این روز، افغانستان در جنبه‌های اقتصادی، سیاسی، نظامی و امنیتی پیشرفت‌های قابل توجهی تجربه کرد.

دستاوردهای ۲۴ اسد

این روز، آغاز کارهای بنیادین و زیرساخت‌های ضروری بود:

- جمع‌آوری معتادان و مقابله با کاهش ارزش واحد پولی
- شروع فازهای مختلف پروژه قوش‌تیپه
- ساختن و توسعه سرک‌ها و اتصال افغانستان به کشور چین ...

ص۲

سرلیکنه

## د زمري ۲۴مه په ملک کې د سولې، ثبات او روښانه راتلونکي هیله

بسم‌الله الرحمن الرحيم
اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَ عَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

د اسد ۲۴مه د افغانستان په تاریخ کې هغه ورځ ده چې تل به د تاریـخ په پاڼو کې په زرینو کرښو ځلانده وي. په دې ورځ د افغانستان اسلامي امارت پلازمېنه کابل ونیو او د اشغالګرو په لاس جوړ شوی جمهوري نظام نسکور شو، چې په دې سره اسلامي امارت یو ځل بیا واک ته ورسېد.

له جګړې پرته د کابل فتح او په ټول افغانستان باندې د افغانستان اسلامي امارت بشپړ حاکمیت د تاریخ په پاڼو کې د یو تلپاتي بدلون په توګو ولیکل شو، چې خپله افغانانو په ځانګړې توګه بهرنیانو ته هم د حېرانتیا وړ و.

دا ځل اسلامي امارت په ډېر قوي عزم، د ملت په درد دردمن، د وطن د بیارغوني آرمانونو سره راغلی و د څو لسیزو جګړو، سیاسي بې‌ثباتۍ او ټولنیزو ستونزو له اوږدې تجربې وروسته لله الحمد نن افغانانو له دې لوی امتحان څخه په سرلوړۍ سر اوچت کړ، دا ورځ د افغانستان د سیاسي ، ټولنیز او اقتصادي وضعیت په تاریـخ کې یو مهم ټکی دی چې هېوادوالو مو له هر وخت زیات د تلپاتې سولې، ثبات او د ژوند د ښه کېدو ته هیله مند دي.

کله چې د افغانستان اسلامي امارت په بیاځلي واکمنېدو سره جګړې پای موند د الله جل جلاله په فضل د خلکو په زړونو کې ویره له منځه لاړه، د مرګ، چاپو، زندانونو او ناامنۍ کرغېړن سیوری د آزادۍ د لمر په راختلو سره له منځه لاړ او خلک د ژوند عادي بهیر ته راګرځېدل. اوس ماشومان کولای شي په ډاډه زړه او د امن په فضا کې مدرسې او ښوونځي ته ولاړ شي، بزګران خپل فصلونه په ډاډه زړه وکري، او سوداګر خپل کاروبارونه پراخ کړي. دا ټول هغه نعمتونه دي موږ افغانان یې باید شکر ادا کړو.

د سولې ارزښت هغه وخت ښه درک کېږي چې د جګړې له ترخو خاطرو سره پرتله شي. جګړه نه یوازې فزیکي زیانونه اړوي، بلکې د خلکو اروایي حالت، اقتصادي بنسټونه او ټولنیز جوړښتونه هم زیانمنوي. برعکس، سوله د ودې، پرمختګ او سوکالۍ دروازې پرانیزي. دا هغه فضا برابروي چې پکې علم، کلتور او اقتصاد وده کوي او انسانان خپل بشپړ ظرفیت ته رسېږي.

د افغانستان اسلامي امارت پنځه کلن مزل ته که پام وکړو مبالغه به مو نه وي کړې چې دا د نړۍ د هېوادونو په تاریـخ کې یو بې ساری یون دی، چې یو ملک له لسیزو جګړو وروسته چې ټول بنسټونه یې له منځه تللي وي په دومره کم وخت کې په ښوونیز، ټولنیز، اقتصاد او نورو برخو کې چټک پرمختګ وکړي. په ملک کې د زرګونو مدرسو او ښوونځیو جوړېدل، د لویو اقتصادي پروژو چې د هغو پلي کېدل یو وخت هېوادوالو ته خوب او خیال ښکارېده، ملک ته په مېلیونونو راستنو شوو مهاجرینو هېوادوالو ته په وخت رسېدنه، سراسري امنیت او د قدرت جزیرو له منځه وړل، په زرګونو تولیدي کارخونو جوړېدل چې د اقتصادي څرخ په فعالیت کې مهم رول لري او دېته ورته د افغانانو هغه هیلې چې د اشغال په تېره شل کلنه دوره کې افغانستان ته د ترېلونونو ډالرو په راتلو سره پورې نه شوې، خو په کمزوري اقتصاد سره دومره لویې لاسته راوړنې کومه وړه خبره نده. دا هر څه د اسلامي نظام د مشرانو د صادقانه او رښتیني خدمت پایله ده چې د خپل ولس د هوسایڼې او د افغانستان د پرمختګ لپاره شپه او ورځ هڅې کوي.

پورته مواردو ته په کتو دا په ډاډ سره ویلای شو چې د افغانستان اسلامي امارت اقتصاد محوره سیاست ته په کتو به ان شاءالله لکه څنګه چې افغانستان له هر امتحان او توپان څخه سرلوړی راوتلی په نږدې راتلونکي کې به افغانستان په ځان بسیا او د پرمختللو ملکونو په کتار کې خپل ځای مومي.

له دې لویې فتح چې یوازې د افغانستان د جغرافیې فتح نه بلکې د مسلمان او مجاهد ولسونو د زړونو د فتح ورځ ده. دا ورځ موږ ته دا پیغام راکوي چې اوس د ټوپک پر ځای قلم ته اړتیا ده، او د ملک د آبادۍ لپاره باید ټول په ګډه کار وکړو. راځئ خپل راتلونکی نسل د علم او پوهې په زیور سمبال کړو او د دې خاورې د پرمختګ او سوکالۍ لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې وکړو.

په پای کې د آزادۍ دا ویاړلې ورځ دې ټول افغان مجاهد او مېړني ولس ته مبارک وي، هیله ده چې دا خاوره تل د سولې، ثبات او سوکالۍ په رڼا کې وځلېږي.

## د اسد ۲۵مه؛ له فتحې وروسته ...

ژوند پر لور ګام اخلي.

هغه سهار یوازې د یوه نظام د بدلېدو سبا نه و؛ د ډېرو افغانانو لپاره د انتظار د اوږدې شپې پای و. چا چې کلونه - کلونه د اشغال د ختمېدو دعا کړې وه او قرباني یې ورکړې وې؛ اوس یې پایله په خپلو سترګو لیده. د هر چا په څېرو کې دا هیلې لیدل کېدې چې نور به مو د خپلې خاورې اصلي او ریښتیني څښتنان وو؛ امنیت او سوکالي به وي؛ ماشومان به مو په ارامه او اسلامي فضا کې لویېږي او د دې خاورې سرچینې او امکانات به د همدغه ولس د ګټو، ریښتیني پرمختګ او ښېرازۍ لپاره وکارول شي.

د فتحې شور ورو ورو ارامېده، خو د خلکو په زړونو کې د یوه نوي ژوند هیله تازه کېده. د اسد ۲۵مه ځکه ځانګړې وه چې افغانستان په هغه سهار د اشغال له تیارې دورې وروسته د خپلواک راتلونکي په هیله راویښ شو.

❁❁❁

### د افغانستان اسلامي امارت د فتحې د ...

زمینه برابره شوې ده.

همدارنګه، د ښوونځیو په ثانوي دوره کې د رشته‌بندۍ طرحه جوړه او تر دې مهاله یې په ۳۹ ښوونځیو کې یې عملي چارې پیل شوې دي؛ سربېره پر دې د نمونوي ښوونځیو ایجاد او د معیاري ازموینو رامنځته کول هم د یادولو وړ دي. دغه راز، د سواد زده‌کړې پروګرامونه پراخ شوي او له زده‌کړې پاتې وطنوالو ته د لیک او لوست زمینه برابره شوې ده. د مدرسینو او ښوونکو د مسلکي وړتیاوو لوړولو، د تعلیمي ادارو تنظیم، د خصوصي ښوونیزو بنسټونو د څارنې او د ښوونې او روزنې د کیفیت ښه کولو لپاره هم پرله‌پسې هڅې شوې دي. پوهنې وزارت دا ټول خدمتونه د فتحې د الهي نعمت د عملي شکر یوه برخه ګڼي؛ خو په عین حال کې باور لري چې د کار لویه برخه لا پاتې ده او مسوولیت مو لا پای ته نه دی رسېدلی.

زموږ اساسي موخه دا ده چې د افغانستان هر ماشوم او هر طالب‌العلم ته د سالمې او ګټورې زده‌کړې زمینه برابره شي؛ داسې تعلیم او تربیه چې اسلامي عقیده، غوره اخلاق، علمي وړتیا، مسلکي مهارت او د ولس د خدمت احساس پکې یو ځای وي. موږ باید داسې نسل وروزو چې د خپل دین په ارزښتونو ثابت، د عصر پر اړتیاوو پوه، په علم او مهارت سمبال او د افغانستان د آبادۍ او پرمختګ لپاره ژمن وي.

له ټولو مدرسینو، استادانو او ښوونکو څخه غواړم چې خپله دنده یوازې یو اداري کار ونه ګڼي؛ بلکې د نوي نسل د فکر، اخلاقو او راتلونکي د جوړولو ستر امانت یې وبولي. د استاد او ښوونکي یوه صادقانه هڅه، یوه ګټوره لارښوونه او یو ښه اخلاقي چلند کولای شي د یوه طالب‌العلم یا زده‌کوونکي د ټول ژوند لوری بدل کړي. له طلاب‌العلم او زده‌کوونکو څخه غواړم چې د علم د ترلاسه کولو فرصت غنیمت وګڼي، خپل وخت په زده‌کړه، عبادت، سالم فکر او ښو اخلاقو ولګوي، د خپلو استادانو درناوی وکړي او ځانونه د دین او ولس خدمت ته چمتو کړي. علم هغه مهال حقیقي ګټه لري چې له تقوا، اخلاقو او عمل سره مل وي.

پوهنې وزارت له خپلو ټولو مسوولانو، کارکوونکو او عام ولس څخه غواړي چې د خپلو دندو او مسوولیتونو په ترسره کولو کې اخلاص، عدالت، امانتداري، نظم او خدمت احساس خپل اصل وګرځوي. د فتحې د نعمت ساتنه هغه مهال شونې ده چې دولت او ولس دواړه خپل مسوولیتونه په رښتینولۍ، ژمنتیا او بشپړ احساس ترسره کړي او هر څوک د خپل توان او دندې له مخې د دې خاورې د آبادۍ، ثبات او پرمختګ لپاره خپله برخه کار وکړي.

راځئ د فتحې د پنځمې کلیزې په دې ویاړلې ورځ یو ځل بیا دا ژمنه تازه کړو چې د علم د عامولو، د تعلیم او تربیې د کیفیت لوړولو، د بې‌سوادۍ د له منځه وړلو او د متدین، بااخلاقه او وړ نسل د روزلو لپاره به خپلې هڅې نه سپموو. دا زموږ د شهیدانو د قربانیو درناوی، د فتحې د نعمت شکر او د راتلونکو نسلونو پر وړاندې زموږ مسوولیت دی.

په پای کې یو ځل بیا د افغانستان اسلامي امارت د فتحې د پنځمې کلیزې په مناسبت د شهیدانو درنو کورنیو، مجاهدینو، مدرسینو، استادانو، ښوونکو، طلاب‌العلم، زده‌کوونکو، د پوهنې وزارت ټولو منسوبینو او ټول افغان ولس ته مبارکي وړاندې کوم.

له الله تعالی څخه غواړم چې اسلامي نظام مو ثابت او پیاوړی، خاوره مو امن، آباده او سوکاله، ولس مو یو موټی او نوی نسل مو په ایمان، علم، تقوا، اخلاقو او خدمت سمبال وګرځوي. الله تعالی دې موږ ټولو ته توفیق راکړي چې د فتحې د دغه ستر نعمت شکر په اخلاص، عمل او د ولس په صادقانه خدمت ادا کړو.

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**
**الحاج مولوي حبیب الله آغا**
**د پوهنې وزارت وزیر**

***

### که فتحه نه وای ...

په پای کې، د «که فتحه نه وای شوې؟» پوښتنه یوازې د تېر په اړه یو ذهني تمرین نه دی؛ بلکې موږ ته د اوسني مسؤلیت یادونه هم ده. که موږ د نن ورځې فرصتونه د سالمې روزنې، علم، اخلاقي ودې او د اسلامي هویت د پیاوړتیا لپاره وکاروو، د پرون قربانۍ به خپل حقیقي ثمر ورکړي. خو که د راتلونکي نسل روزنه له پامه وغورځوو، هېڅ تاریخي لاسته راوړنه به په خپله تلپاتې نه وي. هره فتحه هغه وخت دوام مومي چې تر شا یې یو باایمانه، بافکره او مسؤل نسل ودرېږي.

***

### ۲۴ اسد؛ روز شکست اشغالگران و ...

- گسترش شبکه‌های ارتباطی و توسعه روابط دیپلماتیک با کشورهای منطقه و جهان
- افزایش صادرات و واردات و بهبود وضعیت اقتصادی
- نگهداری مرزها و تثبیت امنیت ملی

۲۴ اسد، روزی بود که زمام امور افغانستان به دست خود افغان‌ها افتاد و دست بیگانگان و اجیران‌شان قطع شد. این روز، پایان جزیره‌های قدرت و نقش اهداف شوم دشمنان در تجزیه افغانستان بود.

**۲۴ اسد؛ روز شکست مفتضحانه آمریکا و هم‌پیمانانش**

۲۴ اسد، روز شکست اشغالگران آمریکایی توسط مجاهدین امارت اسلامی و فتح کابل بود. در طول ۲۰ سال اشغال آمریکا که یکی از نامتعادل‌ترین جنگ‌های تاریخ به شمار می‌رود، هیچ کس تصور نمی‌کرد مجاهدان تهی‌دست امارت اسلامی به چنین پیروزی قاطع دست یابند و آمریکا مجبور به فرار شود.

موسسات تحقیقاتی غربی از اینکه همه پیش‌بینی‌هایشان اشتباه بود و آمریکا بدترین شکست را متحمل شد، شگفت‌زده شدند. این پیروزی را می‌توان نمونه بارز یاری خداوند جل جلاله با مجاهدین امارت اسلامی دانست. نصرت و فتح الهی، از اصلی‌ترین دلایل پیروزی در مبارزات اسلامی است؛ همان‌گونه که در تاریـخ اسلام، گروه‌ها و افراد با ایمان و توکل محض بر خداوند متعال، حتی با امکانات اندک، موفق به فتح بزرگ شده‌اند.

صدها هزار نیروی مسلح، پولیس، استخبارات، اربکیان و ملیشه‌ها به صف امارت اسلامی پیوستند و رهبر امارت اسلامی نیز عفو عمومی اعلام کرد و همه را زیر چتر نظام اسلامی دعوت نمود. این تغییر سمت نه بر اساس زور و تزویر، بلکه تنها به یاری خداوند جل جلاله و توکل مجاهدین حاصل شد.

ظهور مجدد امارت اسلامی افغانستان، نمونه‌ای از بعث دنیوی پس از مرگ دانسته شده و موفقیت خارق‌العاده آن، حیرت جهان را برانگیخت. کشورهای غربی به ویژه آمریکا و انگلیس بارها از عدم توانایی در پیش‌بینی پیروزی‌های طالبان انتقاد کرده‌اند؛ همه این‌ها گواهی بر نصرت الهی است.

**عوامل فتح و پیروزی**

بر اساس قرآن کریم، پیروزی حاصل یاری خداوند متعال و برخی عوامل کلیدی است:

- آرامش قلبی: موهبتی الهی که راه پیروزی را هموار می‌کند.
- تأییدات الهی: نصرت و کمک خداوند تعالی باعث موفقیت مؤمنان می‌شود.
- ایمان: شاخص اصلی دستیابی به وعده الهی است.
- صبر: وسیله‌ای برای افزایش قدرت و در نهایت فتح است.
- توکل: اعتماد بر خداوند تعالی عامل غلبه بر دشمنان است.
- دعا: وسیله‌ای برای دستیابی به ظفر و پیروزی.
- رضایت الهی: پیروزی نتیجه رضایت خداوند تعالی است.
- ولایت الهی: پذیرفتن ولایت خداوند و پیامبرش عامل نهایی فتح است.
- تقوا: در کنار صبر، ملاک اصلی پیروزی است.

قرآن کریم مردم را به مبارزه در تمام عرصه‌های حیات دعوت کرده و وعده پیروزی به مجاهدین داده است. پیروزی حتمی پس از تحمل شدائد و صبر حاصل می‌شود و خداوند تعالی مؤمنان را به فتح و نصرت وعده داده است.

**نتیجه‌گیری**

پیروزی حتمی، پس از تحمل شدائد و استقامت و صبر در میدان مبارزه با موانع از آن انسان است. مسئله مبارزه با پیش‌آمدها، ایستادگی در راه بدست آوردن هدف و پیروزی پس از مبارزه آن‌قدر مهم و با ارزش است که قرآن مجید در بسیاری از سوره‌ها و آیات، مردم را به مبارزه در تمام جبهه‌های حیات، اعم از مبارزه با هوای نفس، دشمنان دین و وطن، زندقه و کفر و مکتب‌های ضد انسانی دعوت کرده و وعده پیروزی به مجاهدین داده است.

# د فتحې تر سیوري لاندې د پوهې ...

علم، روزنې او تمدني ودې د پیل ټکی ګرځولې وي. د بریا ترلاسه کول یو پړاو دی، خو د هغې ساتل او په دوامدار ځواک یې بدلول بل پړاو غواړي. که له فتحې وروسته د علم، ادارې، اقتصاد او فکري ودې بنسټونه پیاوړي نه شي، نو لویې لاسته راوړنې هم د وخت په تېرېدو خپل اغېز له لاسه ورکوي. برعکس، هغه ملتونه چې له خپل تاریخي فرصت څخه د پوهې او جوړونې لپاره ګټه اخلي، د خپلې بریا اغېز تر راتلونکو نسلونو رسوي.

د اسلامي تمدن لومړۍ پېړۍ د دغه حقیقت روښانه بېلګه ده. د مسلمانانو فتحې یوازې تر سیاسي او جغرافیايي بدلونونو محدودې پاتې نه شوې؛ بلکې ترځنګ یې د علم، فقهې، طب، ریاضیاتو، نجوم، ادب او نورو علومو د ودې لپاره هم پراخې لارې پرانیستل شوې. جوماتونه یوازې د عبادت ځایونه نه وو، بلکې د علم، زده‌کړې او مشورې مرکزونه هم وو. وروسته مدرسې، کتابتونونه او علمي حلقې جوړې شوې او داسې نسلونه وروزل شول چې د اسلامي تمدن علمي او فکري بنسټونه یې پیاوړي کړل.

د اسلام له نظره هم د امت ځواک یوازې په جهاد او مبارزه نه بشپړېږي؛ علم، تفقه او بصیرت یې د دوام او سمې لارښوونې لپاره اړین دي. قرآن کریم په دې اړه فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ﴾ [التوبة: ۱۲۲]. د دغه آیت له مفهومه څرګندېږي چې د امت په ژوند کې د تفقه او د دین د ژور فهم لړۍ باید هېڅکله ونه درېږي؛ ان هغه مهال هم چې نور مهم مسؤلیتونه پر غاړه وي، یوه ډله باید د علم او لارښوونې مسؤلیت پر مخ یوسي. قرآن کریم د علم مقام په بل ځای کې داسې بیانوي: ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [الزمر: ۹]؛ «ووایه: آیا پوهان او ناپوهان سره برابر دي؟» همدارنګه انسان تدبر ته رابولي: ﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ﴾ [محمد: ۲۴]. دا لارښوونې ښيي چې په اسلامي لید کې فتحه یوازې د یوه پړاو پای نه دی؛ ورسره د علم، فهم، روزنې او سمې رهبرۍ مسؤلیت هم لا درنېږي. رسول الله ﷺ هم فرمایلي دي: «طلب العلم فریضة علی کل مسلم.» [سنن ابن ماجه: ۲۲۴] یعنې: «د علم زده‌کړه پر هر مسلمان فرض ده.» د علم دغه مقام یوازې د فرد تر شخصي کمال نه محدودېږي؛ بلکې د امت د فکري قوت، د راتلونکو نسلونو د روزنې او لاسته راوړنو د ساتنې وسیله هم ده.

همدا تاریخي او اسلامي تجربه موږ ته دا درس راکوي چې فتحه هغه وخت تلپاتې ارزښت پیدا کوي چې ورسره د پوهې بنسټونه هم پیاوړي شي. قرباني او استقامت فتحه رامنځته کوي، خو دوام یې بیا علم، تدبیر، ښه مدیریت او د راتلونکي نسل سمه روزنه غواړي. له همدې امله د اسد د ۲۴مې فتحه هم باید یوازې د یوې تاریخي مرحلې د پای په توګه نه، بلکې د علمي او فکري اصلاح د یوه نوي مسؤلیت د پیل په توګه وکتل شي.

**پوهه ولې د فتحې طبیعي دوام دی؟**

په لومړي نظر کې ښايي فتحه او پوهه دوه بېلابېل مفاهیم ښکاره شي؛ خو د تاریخ تجربه ښيي چې د یوې تلپاتې بریا په جوړولو کې دا دواړه له یو بل سره ژوره اړیکه لري. فتحه هغه وخت خپل بشپړ ارزښت پیدا کوي چې د علم، روزنې او آبادۍ لپاره نوې لارې پرانیزي او ملت وکولای شي له رامنځته شوي فرصت څخه د خپل راتلونکي د جوړولو لپاره ګټه واخلي.

د اسد د ۲۴مې له فتحې وروسته د افغانستان لپاره هم د یوه نوي پړاو زمینه برابره شوې ده. د اشغال پر وړاندې د جهاد پر مهال لوی مسؤلیت د خپلواکۍ لپاره قرباني، استقامت او ثبات و؛ خو له فتحې وروسته د همدې لاسته راوړنې د ساتنې یوه مهمه لار دا ده چې د ملت علمي او فکري ځواک هم پیاوړی شي. هغه وړتیاوې او استعدادونه چې د اوږدې مبارزې په کلونو کې له ګڼو ستونزو سره مخ وو؛ اوس باید د علم، تخصص، تولید، اقتصاد او روزنې په برخو کې د پرمختګ لپاره وکارول شي.

اسلامي تاریخ هم ښيي چې د مسلمانانو فتحې یوازې تر فتحې محدودې نه شوې. بغداد، دمشق، قاهره، نیشاپور او بخارا څکه د اسلامي تاریخ مهم نومونه دي چې د سیاسي اهمیت ترڅنګ د علم او تمدن په مرکزونو هم بدل شول. په دغو ښارونو کې د تفسیر، حدیث، فقهې، طب، ریاضیاتو او نورو علومو د ودې لپاره زمینه برابره شوه او داسې پوهان پکې وروزل شول چې علمي اثار او خدمتونه یې تر پېړیو پاتې شول. په دې توګه د فتحو اغېز له خپل وخت او جغرافیې واوښت او په علمي میراث بدل شو.

همدا اصل زموږ د اوسني پړاو لپاره هم مهم دی. که تعلیمي مرکزونه پیاوړي شي، ښه ښوونکي او استادان وروزل شي، د مطالعې او څېړنې زمینه پراخه شي او ځوانان په دیني او عصري علومو او اړینو مهارتونو سمبال شي، فتحه به د علمي ودې لپاره هم یو تاریخي فرصت ثابت شي. په دې صورت کې به نوی نسل یوازې د نورو له علمي تولیداتو ګټه نه اخلي، بلکې په تدریج سره به خپله هم د علم، فکر او نوښت په تولید کې ونډه واخلي.

په نننۍ نړۍ کې د ملتونو ځواک یوازې په طبیعي سرچینو او مادي امکاناتو نه سنجول کېږي. پوهه، تخصص، څېړنه او روزل شوی انسان د پرمختګ له مهمو بنسټونو څخه دي. طبیعي سرچینې هغه وخت په ریښتینې شتمنۍ بدلېږي چې د کارولو علم او وړتیا یې موجوده وي، او ادارې هغه وخت ښه فعالیت کوي چې مسلکي او مسؤلیت‌پال کسان یې چارې پر مخ یوسي. له همدې امله پر انسان او علم پانګونه په حقیقت کې د یوه ملت پر راتلونکي پانګونه ده.

د فتحې طبیعي دوام همدلته څرګندېږي. د اشغال پر وړاندې جهاد او مبارزې د خپلواکۍ او فتحې زمینه برابره کړه؛ اوس د دې تاریخي لاسته راوړنې د پیاوړتیا لپاره علم، روزنه، تخصص او فکري وده مهم مسؤلیتونه دي. په همدې توګه فتحه له یوې تاریخي ورځې څخه د راتلونکو نسلونو په یوه دوامداره لاسته راوړنه بدلېدای شي.

**زموږ نوی مسؤلیت؛ د پوهې د فصل لیکل**

هر تاریخي پړاو له ملتونو بېلابېل مسؤلیتونه غواړي. داسې وخت راځي چې تر ټولو ستر ارزښت پکې قرباني، استقامت او مبارزه وي؛ خو له فتحې وروسته د هماغو لاسته راوړنو د ساتنې لپاره فکر، تدبیر، علم او روزنه تر هر څه مهمېږي. که د هر پړاو غوښتنې پر خپل وخت ونه پېژندل شي، د پرون بریاوې د سبا د پرمختګ بشپړ تضمین نه شي کېدای.

موږ هم نن د همدغه نوي پړاو په درشل کې یو. د اشغال پر وړاندې اوږده مبارزه او جهاد - د الله تعالی په نصرت - په فتحه پای ته ورسېدل؛ اوس مسؤلیت دا دی چې له رامنځته شوي فرصت څخه د یوه پیاوړي علمي او فکري راتلونکي لپاره ګټه واخیستل شي. دا مسؤلیت یوازې د ودانیو جوړول، د تعلیمي مرکزونو شمېر زیاتول او د اداري چارو سمون نه دی؛ تر دې مهمه دا ده چې داسې نسل وروزل شي چې خپل دین، خپله خاوره او د خپل وخت اړتیاوې وپېژني او د راتلونکي د جوړولو وړتیا پکې وي.

که د یوه ملت د راتلونکي لپاره تر ټولو مهمه پانګونه وټاکل شي، هغه پر انسان پانګونه ده. طبیعي سرچینې، اقتصادي امکانات او فزیکي زېربناوې خپل ارزښت لري، خو تر شا یې روزل شوي، بااستعداده او مسؤلیت‌پال انسان اړین دي. همدا انسان دی چې سرچینې په شتمنۍ بدلوي، ادارې پیاوړې کوي او له فرصتونو د پرمختګ زمینه جوړوي.

د پوهنې او روزنې اهمیت هم یوازې تر کتاب او ټولګي محدود نه دی. تعلیمي مرکزونه د راتلونکي نسل د فکر او شخصیت د جوړېدو ځایونه دي. د سبا ښوونکي، ډاکټر، انجینر، عالم، قاضي، لیکوال او مدیر د همدې تعلیمي چاپېریالونو له منځه راټوکېږي. که دا نسل په علم، اخلاقو، مسؤلیت‌پالنه او د خدمت په احساس وروزل شي، د ټولنې راتلونکی به هم پیاوړی وي.

همدا لید د پوهنې وزارت مسؤلیت هم درندوي. هر ښه درسي نصاب، هر روزل شوی ښوونکی او استاد، هر اغېزناک تعلیمي مرکز او هر زده‌کوونکی او طالب‌العلم چې له علم، اخلاقو او مسؤلیت سره وروزل شي، د دې خاورې د راتلونکي په جوړولو کې مستقیمه ونډه لري. خو دا کار یوازې د یوه وزارت پر هڅو نه بشپړېږي. کورنۍ، ښوونکي، علما، لیکوال، رسنۍ، تعلیمي مرکزونه او د ټولنې نور اغېزناک قشرونه ټول په دې مسؤلیت کې شریک دي.

د اسد د ۲۴مې تاریخي پیغام ته هم باید له همدې زاویې وکتل شي. که دا ورځ یوازې د یوې تاریخي بریا د یادولو لپاره ونمانځل شي، پیغام به یې نیمګړی پاتې وي؛ خو که د دې ورځې الهام د علم، روزنې، تخصص او فکري ودې په عملي هڅو بدل شي، نو فتحه به د پرون د ویاړ تر څنګ د سبا د پرمختګ بنسټ هم وګرځي.

**پایله؛ تاریخ د فتحو شمېر نه، بلکې پایلې یادوي**

تاریخ سترې پېښې یوازې د رامنځته کېدو له ورځې نه ارزوي؛ اصلي قضاوت یې د هغو اغېزو پر بنسټ کوي چې وروسته یې د ملتونو پر ژوند پرېږدي. یوه فتحه ښايي په یوه ورځ د تاریخ مسیر بدل کړي، خو دا چې دغه بدلون به څومره ژور، ګټور او تلپاتې وي، د فتحې له ورځې وروسته د ملت په فکر، تدبیر او عمل پورې تړاو لري. نو د هرې تاریخي بریا په اړه مهمه پوښتنه دا نه ده چې څنګه ترلاسه شوه؛ بلکې دا ده چې له هغې وروسته څه وشول.

د اسد ۲۴مه هم باید له همدې لیدلوري وکتل شي. د دې ورځې اهمیت یوازې په دې کې نه دی چې د اشغال پر وړاندې اوږده مبارزه او جهاد په فتحه پای ته ورسېدل؛ بلکې په دې کې هم دی چې د یوه نوي پړاو د جوړولو فرصت رامنځته شو. که د تېرو کلونو ستر مسؤلیت قرباني، استقامت او مبارزه وه، د فتحې له راتګ وروسته د علم، روزنې، آبادۍ او د داسې نسل د روزلو مسؤلیت لا دروند شوی چې د خپل دین، خاورې او عصر اړتیاوې وپېژني او د راتلونکي د جوړولو توان ولري.

همدلته علم پوهه د یوې عادي تعلیمي موضوع له چوکاټه وځي او د فتحې د ساتنې له مهمو وسیلو کېږي. علم د فرد د ژوند د ښه کولو تر څنګ د خپلواکۍ د ټینګښت، د ادارو د پیاوړتیا، د اقتصاد د ودې او د ټولنې د ستونزو د حل لپاره هم اړین دی. هر ملت چې خپل تعلیمي بنسټونه پیاوړي کوي، په حقیقت کې پر خپل راتلونکي پانګونه کوي.

د پوهې دا نوی فصل په شعارونو نه لیکل کېږي؛ دا فصل هغه وخت پیلېږي چې زده‌کوونکي او طلاب العلم د ښې زده‌کړې فرصت ولري، ښوونکي او استادان مسلکي او علمي وړتیاوې پیاوړې کړي، د مطالعې او څېړنې فرهنګ وده وکړي، استعدادونه وپالل شي او علم له اخلاقو او مسؤلیت سره مل وي. دا کار یوازې د دولت او تعلیمي ادارو مسؤلیت هم نه دی؛ کورنۍ، علما، ښوونکي، لیکوال، رسنۍ او د ټولنې نور اغېزناک قشرونه پکې ونډه لري.

څو لسیزې وروسته به د نن ورځې نسل یوازې په دې ونه ارزول شي چې د اسد ۲۴مه یې څنګه ونمانځله؛ تر دې مهمه به دا وي چې له فتحې وروسته یې د علم، روزنې او تخصص په برخه کې څه وکړل. ایا داسې نسل وروزل شو چې یوازې د نورو له تولیداتو ګټه وانخلي، بلکې خپله هم د علم او فکر په تولید کې ونډه ولري؟ ایا د دې خاورې ستونزو ته د خپلو پوهانو او متخصصینو له لارې حللارې ومونډل شوې؟ همدا پوښتنې به د نن ورځې د هڅو ریښتینی ارزښت وټاکي.

د تاریخ په حافظه کې شعارونه نه، بلکې پایلې ثبتېږي. د اسد ۲۴مه موږ ته تېر جهاد، قربانۍ او فتحه رایادوي؛ خو د دې ورځې تر ټولو مهم پیغام راتلونکي ته متوجه دی. د پرون قربانۍ هغه وخت خپله بشپړه معنا پیدا کوي چې د نن فرصت په علم، روزنه او آبادۍ بدل شي. فتحې یوه نوې دروازه پرانیستې ده؛ اوس مسؤلیت دا دی چې له دې دروازې د علم، ثبات او تلپاتې پرمختګ پر لور لاړ شو. همدا د فتحې د ساتنې تر ټولو پیاوړې لار او راتلونکو نسلونو ته د هغې تر ټولو ارزښتناک میراث دی.

# ۲۴ اسد؛ فتح و مسئولیت نظام تعلیمی در...

در پنجمین سالگرد فتح، یکی از مسئولیت‌های مهم نظام تعلیمی افغانستان این است که در کنار انتقال علم و دانش، به تربیه شخصیت شاگردان و طلاب‌العلم نیز توجه جدی داشته باشد. تقوای الهی، اخلاق نیکو، روحیه وحدت و همکاری، نظم، مسئولیت‌پذیری، امانت‌داری و احساس خدمت به مردم، از ارزش‌هایی است که باید در کنار آموزش علمی در نسل جوان تقویت شود. شاگردان و طلاب‌العلم امروز، مدیران، تعلیم‌یافتگان، انجینیران، داکتران، معلمان، مدرسان و مسئولان فردای این سرزمین‌اند. به هر اندازه که تعلیم و تربیه آنان باکیفیت‌تر و هدفمندتر باشد، به همان اندازه می‌توان به آینده‌ای بهتر امیدوار بود. از این رو، توجه به کیفیت تعلیم تنها یک نیاز امروز نیست، بلکه سرمایه‌گذاری برای سال‌ها و نسل‌های آینده است.

تحولات سریع علمی و تخنیکی جهان نیز ایجاب می‌کند که نظام تعلیمی، در کنار تقویت علوم دینی، به علوم طبیعی، ریاضیات، تکنالوژی معلوماتی، تعلیمات فنی و حرفوی، تحقیق، نوآوری و مهارت‌های مورد نیاز زندگی توجه لازم داشته باشد. جامعه‌ای که نسل جوان آن هم بر ارزش‌های دینی خود استوار باشد و هم علم، تخصص و مهارت لازم را به دست آورد، می‌تواند در عرصه‌های علمی، اقتصادی و فرهنگی بر توانایی‌های خود تکیه کند.

در این مسیر، معلمین و مدرسین مسئولیت بزرگی بر دوش دارند. آنان تنها انتقال‌دهندگان معلومات نیستند، بلکه در شکل‌گیری اندیشه، اخلاق و شخصیت نسل آینده سهم مستقیم دارند. بسیاری از باورها، عادت‌ها و توانایی‌هایی که یک طالب العلم و شاگرد در سال‌های تعلیم به دست می‌آورد، تا سال‌ها با او باقی می‌ماند. به همین دلیل، توجه به مقام معلم و مدرس، ارتقای کیفیت تدریس، بهبود محیط‌های تعلیمی و فراهم ساختن زمینه بهتر آموزش، در حقیقت توجه به آینده جامعه است.

۲٤ اسد، افزون بر گرامی‌داشت مجاهدت‌ها و فداکاری‌های ملت افغانستان، می‌تواند فرصتی برای اندیشیدن به مسئولیت‌های پس از فتح نیز باشد. مسئولان نظام تعلیمی، معلمین، مدرسین، شاگردان، طلاب‌العلم و خانواده‌ها هر کدام در این زمینه سهم و مسئولیتی دارند. اگر امنیت موجود زمینه گسترش تعلیم باکیفیت را فراهم کند و در کنار ایمان و اخلاق، علم، تخصص و مهارت نیز در نسل نو تقویت شود، زمینه برای خودکفایی و آبادانی افغانستان بیش از پیش فراهم خواهد شد. ماندگاری فتح تنها به یادآوری آن محدود نمی‌شود؛ یکی از بهترین راه‌های پاسداری از آن، بلکه ساختن آینده‌ای است که نسل‌های بعدی ثمره آن را ببینند. این آینده بیش از هر جای دیگر، در مکاتب و مدارس، در صنف‌های درسی، با تلاش معلمین و مدرسین و در ذهن و شخصیت شاگردان و طلاب‌العلم امروز شکل می‌گیرد. اگر این نسل با ایمان، علم، اخلاق و احساس مسئولیت تربیه شود، فردا خواهد توانست دستاوردهای امروز را حفظ کند و افغانستان را به سوی آینده‌ای آباد و باعزت ببرد.

کتنپلاوی: شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مولوي حبیب الله «مؤذن»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاد»
مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»
صفحه آرا: محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر: ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت
د پوهنې کاروان مینه والو!
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او تیلفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۸۴۰۷۲۷۲

Marif
Weekly
Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 331 /2026

# د اسد ۲۵مه؛ له فتحې وروسته لومړی سهار



د اسد ۲۵مه داسې سهار و چې لمر یې پر یوه بدل افغانستان راوخوت. خلکو ورځ په داسې حال کې پیل کړه چې شل کلن اشغال ختم کړای شوی و؛ بهرني ځواکونه د وتلو په حال کې وو او کابل یوه نوي او هیله‌بښونکي پړاو ته د هرکلي غېږ خلاصه کړې وه. په کوڅو او کورونو کې د راتلونکي په اړه خبرې وې. تر اوږدې مبارزې، سختیو او قربانیو وروسته د خلکو په زړونو کې دا هیله راټوکېدلې چې نور به د اشغال تور سیوری راباندې نه وي؛ خاوره به مو ازاده وي، د شهیدانو هیلې به پوره وي، افغانان به د خپل سرنوشت واکې په خپلو لاسونو کې نیسي؛ او دا خاوره به د سولې، آبادۍ او خپلواک...

(۲مخ)

ترلې په ځنځیر، ته د دوران نه وې، روان وې
په قید کې د زمین او د زمان نه وې، روان وې

سیندونو، طوفانونو پاتې نه کړې له هدفه
کیسه کې د صحرا او بیابان نه وې، روان وې

عمر﷛ وې، د ابلیس زامن به نه درتلل په مخه
مرید چې د خپل نفس او شیطان نه وې، روان وې

خالد﷛ وې، په لښکرو به دې نه ډکېدې سترګې
له جنګ پرته د بل څه په ارمان نه وې، روان وې

سکروټې دې د تن په وینو سرې کړې، موحده
بلال﷛ وې، په مینه کې په ځان نه وې، روان وې

رشیده! هند او سېند به دې تناکې شکولي
په خپلو کې عبث لاس او ګریوان نه وې، روان وې

عبدالرشید کامران

## ۲۴ اسد؛ روزی که تاریخ نفس تازه کرد

در تقویم پر فراز و نشیب افغانستان، ۲۴ اسد چنان خورشیدی است که از پس شب‌های تاریک، با شکوه و صلابت طلوع کرد. روزی که برگ زرینی بر دفتر تاریخ این سرزمین افزوده شد؛ روزی که امارت اسلامی افغانستان، پس از سال‌ها مجاهدت، صبر، و ایثار، پرچم پیروزی را بر فراز کابل برافراشت.

در آن روز، صدای گام‌های مجاهدان، پژواک امید بود در دل‌های خستهٔ مردمان. دیوارهای فرسودهٔ ناامیدی فرو ریخت و نسیمی از عزت و استقلال در کوچه‌پس‌کوچه‌های وطن وزیدن گرفت. ۲۴ اسد نه فقط یک تاریخ، بلکه یک روایت است؛ روایت بازگشت به هویت، به ارزش‌ها، به ریشه‌هایی که در خاک غیرت و ایمان تنیده شده‌اند.

این روز، یادآور آن است که هیچ ظلمی پایدار نیست، و هر ملتی که به الله ﷻ توکل کند، در بند نمی‌ماند. فتح کابل، فتح دل‌ها بود؛ فتحی که با خون شهیدان، اشک مادران، و دعای پیران رقم خورد.

امروز، در سایهٔ این فتح، باید با همت و اخلاص، بنای فردایی آبادتر را بسازیم. باید با قلم، با اندیشه، و با عمل، پاسدار این دستاورد باشیم. زیرا ۲۴ اسد، نه پایان راه، بلکه آغازی است برای ساختن افغانستان آزاد، مستقل، و سربلند

## که فتحه نه وای شوې؟

کفایت الله بدر

د ځینو تاریخي پېښو ارزښت هغه وخت ښه درک کېږي چې انسان له ځانه یوه ساده پوښتنه وکړي: که دا پېښه نه وای شوې، نن به زموږ حالت څنګه وای؟ همدا ډول، د اسد د ۲۴مې د اهمیت د درک لپاره هم کله ناکله اړینه ده چې د واقعیت پر ځای د «که نه وای» له زاویې ورته وګورو. ځکه د انسان ذهن ډېر وخت د شته نعمت ارزښت هغه مهال پېژني چې د نشتوالي امکان یې تصور کړي.

که فتحه نه وای شوې او اشغال روان وای: نو د مظلومو وطنوالو وینې به لا هم بهېدې، د خونخوار اشغالګر دښمن او د هغوی د اجیرانو ظلمونه به لا هم زیات شوي وو او د واقعي پرمختګ فرصت به رانه لرې وای. پر دې سربېره به یوه بله خورا مهمه، جدي او ژوره ستونزه موجوده وای؛ یعنې د نسلونو د فکر او هویت د بدلون بهیر.

اشغال یوازې د پوځي حضور نوم نه و. د هر اشغال تر شا یوه فکري پروژه هم روانه وي. بهرني ځواک یوازې د خاورې کنټرول نه غواړي، بلکې هڅه کوي چې د خلکو فکر، د ژوند طرز او د راتلونکي نسل لیدلوری هم ورو ورو بدل کړي. ځکه هر څوک پوهېږي چې که د یوه ملت فکر بدل شي، نو پر دغه ملت د واک چلولو لپاره ډېر پوځ ته اړتیا نه پاتې کېږي.

د شلو کلونو په موده کې د رسنیو، فرهنګي پروګرامونو، ځینو تعلیمي بهیرونو او ټولنیزو فعالیتونو له لارې داسې مفکورې خپرېدې چې د اسلامي ټولنې له ارزښتونو سره یې ښکاره واټن درلود. د ازادۍ، پرمختګ او بشري حقونو تر راښکونکو نومونو لاندې داسې فکرونه وړاندې کېدل چې د کورنۍ بنسټ، اسلامي اخلاق او د ټولنې دودیز ارزښتونه یې ورو ورو کمزوري کول. که څه هم دا بهیر دوام موندلی وای، طبیعي وه چې اغېز به یې تر یوې یا دوو لسیزو وروسته لا ژورې څرګندېدلې.

د ملتونو په ژوند کې تر ټولو ډېر تمرکز باید پر راتلونکي نسل وشي او په دې برخه کې تر نورو برخو ډېره انرژي ولګول شي. که د ماشوم او ځوان فکر په داسې چاپېریال کې وروزل شي چې خپل دین، خپل تاریخ او خپل هویت ورته ثانوي وښودل شي، نو له هغه نسل څخه به د خپل تمدن د ساتنې تمه سخته وي. ځکه هویت په یوه ورځ نه بدلېږي؛ کلونه نیسي او ورو ورو بدلېږي. ډېر وخت خلک هغه وخت ورته متوجه کېږي چې بدلون نږدې بشپړ شوی وي.

دا خبره هم باید هېره نه کړو چې د فکري بدلون لپاره زور تل لومړنۍ وسیله نه وي. کتاب، فلم، ټولنیزې رسنۍ، ښوونیزه او فرهنګي فضا کله ناکله هغه اغېز لري چې وسلې یې نه لري. له همدې امله، د ملتونو ترمنځ سیالي یوازې په نظامي ډګر کې نه وي؛ د ذهنونو او ارزښتونو په ډګر کې هم روانه وي. څوک چې د راتلونکي نسل د فکر کنټرول خپل کړي، نو خپلو هدفونو ته د رسېدو لار یې ډېره هواره کړې ده.

که فتحه نه وای شوې، دا احتمال و چې هماغه فکري او فرهنګي بهیر به لا پراخ شوی وای. هغه څه چې په پیل کې د یوې محدودې طبقې په کچه وو، شاید وروسته د ټولنې په عمومي فضا بدل شوي وای. په داسې حالت کې به د اسلامي هویت ساتنه، د کورنۍ ارزښتونه او د دین پر محور د نسل روزنه لا ډېرو ننګونو سره مخ شوې وای.

خو یوازې د فتحې راتګ هم بسنه نه کوي. که څوک فکر وکړي چې اوس نور هېڅ مسؤلیت نه شته، دا به بله تېروتنه وي. فتحه یو فرصت برابروي، خو له فرصت څخه سمه ګټه اخیستل زموږ په خپل لاس کې دي. که راتلونکی نسل په علم، ښو اخلاقو، سالم فکر او دیني پوهاوي ونه روزل شي، نو هغه فرصتونه هم کمزوري کېږي چې په ډېرو سرښندنو او قربانیو ترلاسه شوي وي.

نن د افغانستان د ځوانانو تر ټولو مهم مسؤلیت دا دی چې د اسلامي هویت او عصري اړتیاوو ترمنځ یو متوازن شخصیت جوړ کړي؛ داسې شخصیت چې پر خپل دین وياړي، د اسلام او مسلمانانو غم ورسره وي، د علم ارزښت پېژني او د بهرنیو فکري یرغلونو او دسیسو پر وړاندې د تشخیص او مبارزې وړتیا ولري. د ملت راتلونکی له همدغه نسل سره تړلی دی...

(۲مخ)

## د فتحې تر سیوري لاندې د پوهې نوی فصل

تاریخ د ډېرو هغو ملتونو کیسې خوندي کړې دي چې سترې بریاوې یې ترلاسه کړې؛ خو ډېر لږ ملتونه دي چې خپله بریا یې د تلپاتې تمدن، علم او پرمختګ پر بنسټ بدله کړې وي. فتحه د یوې اوږدې مبارزې پای ته رسېدل دي، خو ورسره د یوه نوي مسؤلیت دروازه هم پرانیزي. هر ملت چې له یوې سترې تاریخي مرحلې تېرېږي، مخې ته یې دوې لارې راځي: یا خپله بریا یوازې د ویاړ د یوې خاطرې په توګه ساتي، او یا یې د علم، عدالت، آبادۍ او ودې د نوي سفر د پیل ټکی ګرځوي. همدا دویمه لار ده چې د یوې تاریخي بریا اغېز تر راتلونکو نسلونو رسوي.

د اسد ۲۴مه د افغانستان په معاصر تاریخ کې د یوې اوږدې او سپېڅلې مبارزې د بریا ورځ ده. د اشغال پر وړاندې شل کلن جهاد، بېشمېره قربانۍ او استقامت بالاخره په فتحه پای ته ورسېدل او افغانستان د خپل تاریخ نوي پړاو ته داخل شو. خو که د دې ورځې پیغام یوازې د همدې تاریخي بریا تر یادولو محدود پاتې شي، معنا به یې نیمګړې وي. د هرې تاریخي فتحې ارزښت یوازې په دې کې نه وي چې څه پای ته ورسېدل، بلکې په دې کې هم وي چې ورپسې څه پیلېږي.

د اسلام تاریخ هم همدا حقیقت راته ښيي. د رسول الله ﷺ په ژوند کې مهمې فتحې، په ځانګړي ډول د مکې فتحه، د اسلامي رسالت وروستی منزل نه و. له فتحې وروسته د انسان د روزنې، د ټولنې د اصلاح، د علم د خپرېدو او د عدالت د ټینګښت مسؤلیت لا پراخ شو. قرآن کریم هم د «اقرأ» په لومړي الهي امر سره د علم او پوهې لوړ مقام څرګند کړی دی. د اسلام په لومړیو پېړیو کې هم د مسلمانانو فتحې له علمي، فقهي، ادبي او تمدني پرمختګونو سره مل شوې او همدا علمي ځوښښت و چې د هغوی د بریاوو اغېز یې تر پېړیو ورساوه. د اسد د ۲۴مې فتحه هم له موږ څخه د همدغه راتلونکي په اړه د فکر غوښتنه کوي.

هغه قربانۍ، استقامت او اخلاص چې د اشغال پر وړاندې د جهاد او مبارزې په اوږدو کې وښودل شول، اوس د ترلاسه شوې فتحې د ساتنې او د یوه پیاوړي راتلونکي د جوړولو لپاره هم اړین دي. د یوه ملت خپلواکي هغه وخت لا ټینګېږي چې له علمي او فکري پلوه هم پر خپلو پښو ودرېږي؛ خپل متخصصین وروزي، خپل تعلیمي بنسټونه پیاوړي کړي او داسې نسل ولري چې د خپل دین، خاورې او زماني اړتیاوې وپېژني.

همدلته د فتحې تر سیوري لاندې د پوهې نوی فصل پیلېږي. فتحې د یوه نوي پړاو دروازه پرانیستې ده؛ اوس مسؤلیت دا دی چې له دغه فرصت څخه د علم، روزنې او آبادۍ لپاره سمه ګټه واخیستل شي. که دا کار په حکمت، اخلاص او تدبیر وشي، د اسد د ۲۴مې فتحه به یوازې د یوه نسل ویاړ نه وي، بلکې اغېز به یې د راتلونکو نسلونو په علمي او فکري ځواک کې هم څرګند وي.

**د تاریخ یو مهم درس؛ پر علمي وده د فتحې بدلون**

د تاریخ په اوږدو کې ډېر ملتونه له سترو بدلونونو او بریاوو تېر شوي دي؛ خو هغه ملتونه ډېر لږ دي چې خپله فتحه یې د...

(۳مخ)

آزادی یعنی رهایی از ترس، زنجیر و تحقیر؛ یعنی انسانی که با عزت زندگی کند و سرنوشت خویش را خود رقم بزند. راه آزادی شاید دشوار و طولانی باشد، اما ملتی که امید، ایمان و اراده دارد، هرگز شکست نخواهد خورد.